دوکتور محمد عثمان تره کی

۱۴ / ۱۰ / ۲۰۲۶

# له پاکستان سره د حساب او کتاب زرین فرصت :
# توپ د طالبانو په میدان کې دی

په خیبر پښتونخوا کې د خلکو سیلاب ډوله مظاهرې ځو حقیقتونه ثابتوي :

- د پښتنو په منځ کې د سیاسي شعور او د مدني حقونو او جلا ملي هویت څخه د دفاع د ارادې شتون

- په پښتونخوا ایالت کې د سیاسي او ګوندي نظم او انسجام ژورې ریښې

- د خپلواکۍ د ملي داعیې لپاره د قربانۍ ورکولو اراده

سهیل اپریدي، چې د تحریک انصاف اړوند ایالتي اعلی وزیر و، ډېره هڅه وکړه چې لاریون (لانګ مارچ) د اساسي قانون د احکامو او د مدني حقونو د اصولو په رعایتولو سره تر کنټرول لاندې وساتي. لانګ مارچ په بشپړه توګه په سوله ییز ډول پیل شو. لاریونوالو له تاوتریخوالي څخه کار وانخیست او د جمهوریت ضد شعارونه یې ور نه کړل.

**د لاریونوالو غوښتنې په درېو ټکو کې خلاصه کېدي :**

- له زندانه د عمران خان خوشي کول

- د ترهګرۍ پر ضد په پلمه، په خیبر پښتونخوا کې له پوځي عملیاتو سره مخالفت

- د خیبر پښتونخوا د حکومت له خوا د ایالت د طبیعي سرچینو د حق غوښتنه

د عمران خان له زنداني کېدو څخه، چې سیاسي انګېزه لري، درې کاله تېرېږي. په دې موده کې د هغه د خوشي کېدو لپاره داسې پراخې او سترې مظاهرې نه وې شوې.

لانګ مارچ په داسې وخت کې تنظیم شو چې پاکستان پر افغانستان هوایي بریدونه وکړل. له شک نه پرته، د دې ملي پاخون پېټه او ناویلې انګېزه دا ګڼل کېدای شي چې لر پښتنو د افغانستان پر هوایي حریم د پاکستان د پرله پسې تېریو پر وړاندې خپل خفقان څرګند کړ.

هېر نه کړو چې له دې مخکې هم له افغان طالبانو سره د پاکستاني طالبانو تحریک پیوستون د پاکستان د پوځ پر ضد د وسله وال غبرګون لامل شوی.

فدرالي حکومت، چې واکې یې د پاکستان د پوځ په لاس کې دي، د اساسي قانون د ۲۳۲مې مادې پر بنسټ د بېړنې حالت په اعلانولو سره د خیبر پښتونخوا منتخب حکومت منحل کړ او پر لاریونوالو یې برید وکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پاکستان پوځ د بېړني حالت د اعلان د توجيه کولو لپاره، د تحريک انصاف سوله ايزي مظاهري د دروغو او جعل له لارې د پاکستاني طالبانو تحريک له خوا د پنجاب د حکومت پر ضد له جګړې او د افغانستان له لاسوهنو سره وتړلې.

د بېړني حالت اعلان له هغو دوو اساسي اصولو سره په ټکر کې دی چې پاکستان پرې د يوه هېواد په توګه د سيمې پر نقشه راښکاره شوی دی. دغه دوه اصلونه يو اسلام او بل جمهوريت دی.

د پاکستان پوځ د اسلام په ضد د تحريک طالبان پاکستان سره او د جمهوريت په وړاندې د تحريک انصاف سره جنګيږي.

له همدې امله، مبالغه به نه وي که ووايو چې پاکستان د خپل شته والي منطق له لاسه ورکړی دی.

تاريخي تجربې ښيي چې د ميليونونو خلکو له مظاهرو سره تاوتريخجن چلند ظاهراً د امنيت په ټينګښت کې مرسته کوي. خو دا امنيت دوام نه شي موندلی. ځکه هغه غوښتني چې په زور ځپل کېږي، له سطحې څخه ژورو ته ځي او ښکاره سوله ييزه مبارزه په پټه او تاوتريخجنه مبارزه بدلېږي.

بلوچانو په پاکستان کې د وسله والې مبارزې د پراخېدو لپاره کافي زمينه برابره کړېده. مخکې د پاکستاني طالبانو تحريک د وسله وال مقاومت مخکښ رول لوبولی ده. له همدې امله، دا له تصوره لرې نه ده چې د انصاف او د پښتونخوا نورو دوديزو ګوندونو يو شمېر غړي له پاکستاني طالبانو تحريک سره يوځای شي.

د بېړني حالت اعلان او د بېوسلې لاريونوالو پر وړاندې د تاوتريخوالي کارول موږ له يوه بل حقيقت سره مخ کوي: د خان عبدالغفار خان د هغو ښوونو ناکامي چې د مدني او ملي حقونو د ترلاسه کولو لپاره يې پر سوله ييزې مبارزې ټينګار کاوه.

د پاکستان د جمعيت علمای اسلام د مشر فضل الرحمن له خوا د بېړني حالت له اعلان سره مخالفت ، خيبر پښتونخوا د پنجاب د واکمنۍ پر ضد د يوه ملي پاڅون لپاره خورا پياوړی بالقوه ظرفيت وربښلی. په دې ملي پاڅون کې پياوړي ګوندونه او سياسي جوړښتونه شامليدای شي. د هغې جملې څخه :

- تحريک انصاف

- پښتون ژغورني غورځنګ ( د منظور پښتين په مشرۍ )

- جمعيت علمای اسلام ( فضل الرحمن )

- عوامي نېشنل ګوند ( ايمل ولی خان )

- پښتونخوا ملی عوامي ګوند ( محمود خان اڅکزي )

- د پاکستاني طالبانو تحريک.

اوسمهال بايد نوموړي ګوندونه او تنظيمونه خپل واړه اختلافات يوې خوا ته پرېږدي او د پښتونستان د جوړولو پر ګډ هدف تمرکز وکړي.

د يوه ګډ پرېکړه ليک له لارې دې ملګرو ملتونو ته د ټولپوښتني غوښتنه وړاندې کړي، څو د خپلواک پښتونستان د جوړېدو يا له افغانستان سره د يوځای کېدو په اړه پرېکړه وشي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د پاکستان يو شمېر سياسي ګوندونو او شخصيتونو بې له ځنډه د لاريونوالو له داعيې څخه ملاتړ کړی دی. خو له بده مرغه، د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشر محمود خان اڅکزي تر اوسه د يوه مکارانه دريز په بنسټ چوپتيا غوره کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې نوموړی د ۲۰۲۶ کال په جنوری کې د عمران خان په وړانديز د ملي اسمبلۍ د اپوزيسيون د مشر په توګه وټاکل شو.

په پاکستان کې د پښتنو او بلوڅانو پاڅون له بهرني ملاتړ او اړيکو پرته نتيجه نه شي ورکولای.

په پښتونخوا او بلوچستان کې د پاکستان د پوځ پر ضد د خوځښتونو ترڅنګ، هند هم کولای شي په کشمير کې پاکستان له ستونزو سره مخ کړي او د پاکستاني پوځ د ځواکونو د تيتولو لپاره يوه نوې جبهه پرانيزي.

د سيمې هېواد (چين) او له سيمې بهر بل هېواد (امريکا) پاکستان ته د خپلو ګټو د مدافع په سترګه ګوري. له همدې امله، بايد ځانګړي تدابير ونيول شي، څو د پاکستان متحد هېوادونه د پاکستان سقوط د خپلو ګټو په چوکاټ کې ووينې.

افغانستان، پرته له دې چې په مستقيم ډول په دې پېښه کې ښکېل شي، په پښتونخوأ کې د ټولو سياسي ګوندونو او تنظيمونو په ځانګړې توګه د پاکستاني طالبانو تحريک لپاره د الهام سرچينه ده.

د ډيورنډ کرښې هغې غاړې ته شپېته ميليونه پښتانه د پنجاب د استعماري سلطې د پای ته رسولو لپاره افغانستان ته د هيلې سترګې نيولي دي.

**افغانستان ته يو زرين فرصت په لاس ورغلی دی، څو له پاکستان سره حساب او کتاب تصفيه کړي.**

د حکومتولۍ په بڼه کې سمون راوستل، د ديپلوماتيک انزوا نه وتل او د څو اړخيزې ډيپلوماسۍ غوره کول کولای شي افغانستان په سيمه کې پر يوه بريالي لوبغاړي او په پښتونخوا او بلوچستان کې د ټولو سياسي ګوندونو او خوځښتونو لپاره د الهام په سرچينه بدل کړي.

د اروپايانو په اصطلاح، **توپ د طالبانو په ميدان کې دی.**

**« پای »**



آرشيف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ